څوک چې په قرآن کې ماهر وي، هغه به د شریفو، پاکو او عزتمندو ملایکو سره وي، او څوک چې قرآن لولي، خو د سخت له امله پکې بندېږي او لوستل یې ورته ستونزمن وي، نو هغه لره دوه اجرونه دي

له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "څوک چې په قرآن کې ماهر وي، هغه به د شریفو، پاکو او عزتمندو ملایکو سره وي، او څوک چې قرآن لولي، خو د سخت له امله پکې بندېږي او لوستل یې ورته ستونزمن وي، نو هغه لره دوه اجرونه دي".
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، څوک چې قرآن لولي، او ښه پیاوړې حافظه ولري او په لوستلو کې مهارت او زیرکتیا ولري، نو په آخرت کې به یې اجر دا وي چې د هغه مقام به له هغو ملایکو سره وي چې لیکوالانې او د عزت خاوندانې او نېکې دي، او څوک چې قرآن لولي او د حافظې د کمزورۍ له امله یې په لوستلو کې تېندکونه وهي، خو سره له دې یې بیا بیا هم لولي، ځکه چې حافظه یې کمزورې ده خو بیا یې هم نه پریږدي، نو دا د هغه لپاره ډېره ستونزمنه او سخته چاره ده، نو د ده لپاره دوه اجرونه دي: د لوستلو اجر او په لوستلو کې د سختۍ سره سره د بیا بیا لوستلو اجر.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10113